# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد      بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم      از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com      afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



درویش وردگ

۲۱ مارچ ۲۰۱۹

## ولی ددولت پرځای ګوندونه؟؟؟

**میرمسـجدی مـرد میدان است**

**میربچـــه خـــان شیرغران است**

**آزادی فخر افغان است**

ګران هیواد وال خو خبردی چی دافغان دکشالی دحل کولو لپاره په قطرکی دامریکایی استاذو اوطالبانو ترمنځ دسولی دخبرو پنځ دورپه داسی حال کی پای ته ورسید چی دافغانستان اسلامی جمهوریت اوافغان مظلوم ولس له دی خبرو څنډی ته پاته شوی اوحتی دامریکی دناټو انډیوالان هم له خبرو څخه بی خبره دی اوټولی خواووی یی دلوی تشویش اوسردرګمی سره مخ کړی دی، پداسی حال کی چی دقطرچاړواکو اوداستعمار دځای ناستی پاکستان کرنیلانو پکی ګډون درلود.

دافغانستان داسلامی جهوریت چاړواکی اودافغان مجاهد ولس حق لری چی دهغه خبرو په هکله ځانونه پوه کړی چی ددوی په سرنوشت پکی  پریکړی کیږی. په ظاهره خوداسی ښکاری چی دامریکی داستاذو اوطالب د یرغمل استاذو ترمنځ په څلورو خبرو بحث شوی چی په دوویی(دبهرنی پوځونوتل اود طالب لخوا دتروریزم مخنوی) دموافقی مسوده هم چمتوشوی چی په شپږم؟ دورکی به پری پریکړه وشی. دا دوی خبری چی باید پری وروسته موافقه شوی وای  زمونږ دسوګند خوړلی استعارزوی دښمن په خوښه لومړی دمیزپرسر کښینول شوی چی پانګوالو هم ورسره دخپلو جیبونو دتشیدو له ویری دېټولو منطقی اونړیوالوعرفی دودونو خلاف  ومنله !. اودوی لومړنی دوی اومنطقی خبری ( اوربند اوادافغانستان داسلامی جهوریت سره بین الافغانی خبری ) چی  باید لومړی شوی وای شاته واچولی اودمذاکراتو بهیر په ټوکو واووښت.

وایی یو ملا خپل شاګرد ته د تیّمُم عملی کولوچاری ورزده کولی! کله چی ملاصاحب دېنوپه سرکښیناست چی لاسونه په خاورو وموږی نولیری موله مخی باد یی مات شوا! اوپاته چاریی شاګرد ته ونبودی. په پای کی ملا له شاګردڅخه سوال وکړچی پوه شوی؟ شاګرد وویل هوکی پوه شوم. ولی په یوه خبره پوه نشوم چی: مخکی له دی چی لاسونه په خاورو وموږم بیا تیزواچوم اوکه لومړی لاسونه په خاورو وموږم اوبیا تیزواچوام؟؟؟

هوکی ګرانو  هیوادو والو ددی خبری دیوره وضاحت  لپاره یوی بلی واقعی ته هم اشاره کوم چی د ۲۰۱۴کال نه مخکی دچړچواومزوپه وختوکی پاکستانی غلام کرنیلانو په افغان تجارانو داوړو خرڅلاو ودراوه؟ اوپرځای یی

وړاندیز وکړ چی غواړی له افغان حکومت سره قرارداد لاسلیک کړی، په داسی حال کی چی ددولت سره یی په خرپ نیابتی جګړه هم روانه وه .

علت یی داوو چی دوی دحکومت  په فساد کی ډوب  چارواکو ته دلږبډیو پرورکولو سره غوښتل دتازه اوړو پرځای دخپل شیطانی لښکر د ذخیرو(ریزرف) اووه کلن اوړه  په ملی سوداګرو وپلوری؟ ځکه سوادګرپه هیڅ توګه دزړو اوړوپلور ته زړه نه ښه کاوه داخبره زمونږ ملی سوداګرو ته ښه په یاد ده .

اوس خبره برعکس ده! غواړی له افغانستان پلورونکومعلوملحاله کړیو( چی دخیانت اوفساد دوسیی یی دسیګار په الماریوکی پرتی دی) سره کښینی او له دولت سره چی کم ترکمه تراټو(۸) ملیونو افغانانو د ټاکنی په پایله کی  منځ ته راغلی نه غواړی خبری وکړی. **که شپه تیاره ده خو منی په شماردی!.**

غلیمګیه ! نورپوه شه ! چی افغانان اوس شکر پوه دی دجومات او غوجل  توپیر کولای شی اوله تیمم ښوولو څخه مو هم مننه مونږ ته امام المسلمین شیخ اعظم ابوحنیفه(رحمة الله علیه) ددین دچارو دترسره کولو لپاره روښانه اوسمی چاری رازده کړی اومونږ داکوری ساخت تکفیری- وهابی چل ولونو اونامستندو په اصطلاح احادیثو؟ سره هم پوره بلد شوی یو.

که ۴۰ کاله په زړه وسپنوهم داسی ګوزارونه وشی لکه په دی میرنی اولس چی تاسو نامردانو وکړل نوپولاد به تری جوړ شی شکر مونږ اوس ترپولادو هم کلک یاستو.  بس دی نور زمونږ حوصلی مه آزمویی اوهرڅه انداز لری! ستا سوجفاوی اونامردی چی ددی ولس سره مووکړی دهیڅا هیری ندی. افغانان موکه هرڅوسره بیل کړل؟ ولی ایل کولای یی هیڅکله هم  نشی!!! دخپل بادار( زاړه ګیدړ) مړی خواوس دنیاوالو راوکښل اوپه وسلو اودریشیو یی نانذری هم روانی دی. مونږ حتی غلیمان هم په درناوی خاورو ته سپارلی ولی تاسو نامردانو نه راته نه ولسمشرپرینښود او نه پیراو نه فقیر اوملا موهم راته وهابی کړ.

**ماته مه راځه توریه**

**زه زانګو دمیرنو یم**

**زه یم کوردشهیدانو**

**رنګ په وینو دزمرویم**

**دابراق که هرڅوخوارشی**

**خوپرتایی بخت بلنددی**

**ته یی آخورته نه رسیږی**

**چی آخوریی له تالوړ دی**

**ورځه لاړشه لوی غوږیه**

**زه آخوردبراقویم**

**زه یم کوردشهیدانو**

**رنګ په وینو د زمرویم**

ټولوهیوادوالوته که ځوانان دی اویا پاخه دی دا پیام ورکوم چی افغانستان د زرکانو(کبک) ملک دی اودښمنان غواړی مونږ په غاړو وبیروی اوومو تښتوی؟  دا افغانستان دی او اورد تاریخ لری اوهیڅکله یی هم چاته سر ندی ټیټ کړی، دفیلمونوننداکر اوهغوی چی په قمارخانوکی لوی شوی اوتاریخ ته سپکاوی کوی اومونږ ته دکتابخانو پیغورنه راکوی، زمونږ سرنوشت نشی ټاکلی ! داخوب دی او خیال دی اومهال دی، پام کوی چی دغدار اونامرد دښمن  د ناوړه تبلیغاتو

اوپروپاگندو تراغیزی لاندی رانشی، اونه هم ددوی درنگ زیرو لاسپوڅواوکاسه ښتونکی گوډاگیانو څخه په ویره کی نشی !!! ارادی موکلکی کړی، توکل موپرلوی اوځواکمن څښتن کړی، مونږ ټول عمر دپردیو دسلطی پرته تیرکړی اوپه دی ټاکونکو شیبو که به خدای مکړه د بُم(کونک) په شان نه کیږو چی کړی عبادتونه موخاوری شی، میدان ته یی رابولی اودعلامه اقبال لاهوری رحمه الله په قول:

**گرنــدانی غیـــرت افغانی ام چون به میدان آمدی میدانی ام**

وسلام علیکم ورحمة الله

تل د وی سرلوړی افغانستان

**په هیوادنی مینه**